آصف بهاند ۲۰۲۰/۰۴/۰۱

# د شهنواز باقر د شعر په بڼ کې

## دولسمه برخه

## د شهنواز باقر نوې انټريو او يو غزل

راتلونکي نسل ته مو جنګ نه بغير څه پرېښي دي؟
ساه هم چي وځي رانه دوى ته وصيت نه کوو

د خاموشۍ په تار د شونډو دروازې وتړو
باقره! ولې د خپل حق غوښتو جرأت نه کوو

شهنواز باقر په دې ورستيو کې له «TTN NEWS» نومي تلويزيوه سره په يوه ځانګړې مرکه کې د خپلي شاعرۍ په باب نوې خبرې کړې دي، چي ځيني مهم ټکي يې دا دي:

ـ زما شاعري، زما د لمبه ـ لمبه ماحول او درد انځورونکی هنر دی،

ـ کوم څه چي په افغانستان او پښتونخوا کې تېرېږي، هغه دردونکي حقايق به د شعر په قالب کې انځوروم او تر خلکو به يې رسوم،

ـ په دې ورستيو کې دوه شعرونه په خلکو کې ډېر منل شوي دي او مقبوليت يې پيدا کړی دی (باچا خبره واوره، دا زما د وطن حال دی) په دې شعرونو کې ما د خپلي ټولني او خلکو دردونه او غوښتني څومره چي توانېدلی يم، په هنري بڼه انځور کړې دي او بيا مې لوستونکو ته په مخ کې ايښي دي،

ـ هر څوک چي يو توری هم رازده کوي، زه يې خپل استاد ګڼم، خو په شعر او شاعرۍ کې مې چي ډېر څه زده کړي دي له اتل افغان نه مې زده کړي دي او زه يې خپل استاد ګڼم،

ـ زما هنري کاروانه روان دي، پر ما باندي خلک او زما مورنۍ ژبه ګرانه ده او ډېر حق راباندې لري، د همدې له پاره د خلکو نيکمرغي مې هيله ده او د خپلي مورنۍ ژبې د غنا له پاره به تر خپل وسه هلې ځلې کوم،

ـ تاسو لکه تل له ما نه هم د وروستي پيام غوښتنه وکړه، زما پيام دا دی:


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

ما له ځان نه کربلا جوړه کړې ده او له دې سوځنده سيمي نه تاسو ته د شعر په نامه الفاظ راوباسم، تاسو يې د زړه په سترګو ولولئ او د دې لفظونو په مانا ځان پوه کړئ چې زه څه ويل غواړم. امن سولې ته قايل شئ، قلم راواخلئ او ټوپک ته نه ووايئ، په قلم کې علم دی، مينه ده او په انسان کې مينه او ښکلا پيدا کوي،

ـ زما په چاپيريال کې ټوپک کرل شوی دی، دا بايد ړنګ شي او پر ځای يې مينه او وروري وکرل شي.

**دا هم د باقر يو غزل:**

تازه غزل، نوی تصوير

د ژونـد د تېريـدو ضـرورتونه ځومره ډير دي
لاسونه زما دوه دي، او کـارونـه ځومره ډير دي

پـه ډېـرو دليلـونـو ورکـولـو شـومـه، ستړی
د خلکو په ذهنونو کې سوالونه ځومره ډير دي؟

د عشق په بصيرت دي؟ که د خپل وطن په حال؟
په دې ښار کې د زړونو تکليفونه ځـومـره ډير دي

زمـا او سـتـا يـوه نـښه د يـو بـل سره نـشته
زما او ستا په کور کې صندوقونه ځومره ډير دي

هـر چـا د خـاموشی جـامې اغوستي دي باقره!
خبرې ځومره ډيرې دي، غوږونه ځومره ډير دي

نور بيا


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزی بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په ځير و لولئ